مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکونکی: رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۱/۱۰/۱۵

# د اسلام مبین دین کې د علم مقام ا و ارزښت

# او

# په افغانستان کې

# د اسلامي امارت تعليمي سياست

زموږ په هیواد کې تر اوسه پورې داسلام پاک دین کې دعلم مقام اوارزښت په هکله د پام وړ علمي څیړنې او بحثونه نه دي شوې. هلته ملاصاحب دمنبې، هدايې او نورو نه سر نه راپورته کاوه، دکيميا، رياضي، فزيک اود داسې نورو علومو تکنالوژيکي لاسته راړنو ته يې دجادو په سترګه کتل، هلته بيا ځني هغه کسان چې ځانونه ورته دعصري علومو پو هان ښکاريدل په دې عقيده وو چې ددغه يا هغه ملا صاحب دغه يا هغه څرګندونه نه بلکې داسلام دين دعلم او ټولنيز پر مختګ مخالف دی. د دې موضوع څيړلو، له هغه را هسې چې طالبانو په افغانستان کې اسلامي امارت اعلان کړ، د نظري اوعقيدوي ارزښت تر څنګ سياسي عملي ارزښت هم تر لاسه کړ. ځکه چې طالبانو په خپل لومړني امارت کې جونو او ښځو ته د زده کړو او کار اجازه ور نه کړه او په دې نوي امارت کې يې هم تعليمې سياست روښان نه دی. لومړی يې د جونو پر مخ د شپږم ټولګي نه پورته دټولو ښوونځيو او هم د ټولو پوهنځيو دروازې وتړلې. بيا يې دکندوزاو څه موده وروسته يې د کوم بل ولايت دليسو دروازې دجونو په مخ خلاصې کړې. داسې ښکاري چې دوی، خدای دې نه کړي، د جونود زده کړوپه برخه کې يو څه ناحه بهرن نی سياست چلوي او د دي سياست په وړاندې ځان ته دبهرنيو غبرګون مالوموي. زما په فکرله دې انتظارونونه دا ښه ده چې تر هر څه نه وړاندې ځانونه داسلام په مقد س دين کې دعلم او زده کړو په مقام او ارزښت پوه کړو او ورسره سم عمل وکړو. زه يې په خپل وار دخوشال خټک په لاندې شعر پيل کوم:

**زده کول د علم فرض دي په ميړو په ښځو قرض دي**
**صد رحمت په هغه باندې چـــې طلـــب دعـــلـم کاندي**

**پيــغـمــبر د ي فــرمايلي ده تــر پــا کـــې خولې ايستلي**
**عــلــم واړه عــبا دت دی څــو چــې کيږي سعادت دی**

(د خوشال کليا ت، ۹۹۸ مخ)

خوشال خټک د حضر محمد مصطفی (ص) له قوله وايي چې دعلم زده کړه په هر مسلمان ( نا رينه اوښځينه ) فرض دی. دلته د علم په زده کړه کې جنسي قيد اوشرط نشته. يانې په ښخه او نارينه يوشان دعلم زده کړه مطلق فرض ده. دا په دې مانا چې دعلم زده کول په حقيقت کې د فرض ادا کول دي او د فرض ادا کول د لوی پرورد ګار په دربارکې دعبادت کولو مانا لري. دعلم دزده کړې مخنيوی اويا ورسره مخالفت په ححقيقت کې دفرض داداکولوسره مخالفت او جهالت دی. د تاريخ په اوږد و کې جهالت دلته او هلته دعلم په وړاندې مقاومت اومخالفت کړی دی اوکوی يې، خو په پايله کې دعلم په وړاندې ماتيږې او وار په وار ورکيږي. ځکه چې جهل د ګمراهۍ او تباهۍ لارده اوعلم د سرلوړی او نيکمرغۍ لار ده. حضرت محمد مصطفی(ص) فرما يي چې:« بې عمله علم بې ګټې او بې علمه عمل تباهي ده».[ عبدالهادي مالخيل: خوږې خبرې، دانش کتابخانه، پيښور،۱۳۷۶ لمريز کال ] بې علمه عمل يانې په جهل او نا پوهۍ کې ژوند کول د تباهۍ او بربادۍ کندوته د ځان اچولو په مانا دی. نوځکه رسول(ص) د تباهۍ اوبربادۍ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

نه د خپل امت د ساتلو او په دين او د نيا کي دهغه دسوکالی او ابادی له پاره دعلم په زده کړه ټينګار کړی دی او هغه يې د د يني او دنياوي ښيګڼو، ښادی او نيکمرغی سرچينه ګڼلی دی. په دې برخه کې خوشال خټک دخپل پيغمبر(ص) په پيروی ليکي:

**چـې په علــم څوک آباد وي غم يي نشته تل به ښاد وي**
**خدای په علــم پيژانده شي په دانش ابليس رانده شي**

**حق ناحق زده کړې په علم در ښــکاره شي عدل، ظلم**
**په دنيا چي تور اوسپين دی واړه علــم وتــه مبيــن دی**

**علــم ديــن دی هم د نيا دی د با د شــاه هــم دګــدا دی**
**چي فقـير وي علم زده کا خدای يي لويــه مرتبه کا**

(د خوشال خان کليات.۷۷۹-۷۷۶ مخونه)

حقيقت دادی چي داسلام مبين دين دظلم اوظلمت ياني دزور واکی او نا پوهی سره دجهاد له پاره ظهور کړی دی اوجها لت يي د زورواکي بنسټ بللی دی. په هره اندازه چي ظلمت، ناپوهي اوجهالت ماتيږي، ورسره سم زورواکي، استبداد اد بې عدالتي هم ورکيږي، به بشري ټولنه کې د وروری، برابری، پرمختګ اوسوکالی له پاره لار خلاصيږي. علم مو نه يوازې په ټولنيز چاپيريال کي دښو او بدو، روا او ناروا، حلال او حرام ترمنځ توپير ياني د يني او اخلاقي مسا يلو سره اشنا کوي بلکي د طبعيت اسرار اويا په طبعيت کي جاري قوانين اوله دې قوانينو څخه د بشر په ګټه د کار اخيستلو لارې چارې هم راښيي. نوځکه داسلام په مبين د ين کې دعلم په زده کړه د بل هر دين اويا فلسفي مکتب پرتله زيات ټينګار شوی دی.داسلام پيغمبر(ص) فرما يي چي: « دعلم زده کړه په هر مسلمان، نر او ښځه، باندي فرض ده».[پورتنی اثر] دانسان د ژوند ټا ټوبی ياني د دې د نيا ټولنيز اوطبعي اړخونه ډيره متنوع اوپيچلي دي. د دې تنوع او پيچلتيا پيژند نه او د بشر په ګټه د هغوی څخه کار اخيستنه ساده کار نه دی، خو له بلې خوا لوی پروردګار انسان ته عقل ور کړی دی چي دودې، پرمختګ او په دې توګه په پيچلو مسايلو باندې د پوهيدو وس لري او دعقل دودې او پر مختګ لاربيا په خپل وار دعلم زده کړه ده. علم دانسان عقل پياوړی کوي او په پيچلو مسايلو باندي د پوهيد لو او دهغوی د حل کولو وس ور کوي. نو ځکه داسلام مبين د ين په دې مکلف کړي ياستو چي په خپل ټول ژوند کې به دعلم له زده کړې څخه لاس نه اخلو. حضرت محمد مصطفی ( ص ) فرمايلي دي چي: « له مهد (زانګو ) نه تر لحد (قبر) پورې دعلم زده کړه وکړی.»[ پورتنی اثر ] ياني دعلم زده کړه دمسلمان په ژوند کې زماني قيد او شرط نه لري، په دې مانا چي دانسان دعمر په کوم ټاکلي پړاو پورې نه دی تړل شوی بلکي په هر مسلمان باندې د د ه په ټول عمر کي له زانګو تر ګور پورې فرض دی. په همدې توګه.
دعلم زده کړه په اسلام کي د مکا ني قيد نه هم ازاده ده. حضرت نبي ( ص ) فرما يي چي: « علم زده کړی که په چين کې وي هم».[ پورتنی اثر] دا مبارک حديثونه راښيي چي علم په اسلام کي دهر ډول قيد اوشرط نه ازاد فرض او يو مطلق ضرورت دی. داسلام په پاک دين کي جنس دعلم دزده کړې مخه نشي نيولی ځکه په دواړو جنسونو ياني نر او ښځه فرض دي. دعلم زده کړه دزمان له قيده هم ازاده ده ياني دانسان دعمر په کوم ټاکلي پړاو پورې نه دی تړل شوی بلکي په هر مسلمان باندي د د ه په ټول عمر کي له زانګو تر ګور پورې فرض دی. په همدې توګه دعلم زده کړه په کوم ځانګړې ځای پورې هم نه ده تړل شوی. هر مسلمان مکلف دی چي دپوهي تر لاسه کولو له پاره دامکان او ضرورت په صورت کي دخپل کور،کلي او حتی دخپل هيواد نه ووځي او دنړی نورو هيوادونوته سفرونه وکړي. په دې او نوروپاکو حد يثونو کي علم په ديني او دنيا وي علومو هم نه دی ويشل شوی بلکي د علم ټکی په عام مفهوم کارول شوی دی. دحضرت محمد مصطفی (ص) دژدند په وخت کي نه داسلام مبين دين چين ته رسيلی و او نه خلاصه، منيه او هدايه ليکل شوي وو، خوچنيايي پوهانو او دصنعت ماهرانود پخوا نيوزمانوراهسي په نړی کي شهرت درلود. لنډه دا چي علم، ديني او عقلي علم، داسلام د پيغمبر حضرت محمد ( ص ) په قول په هر مسلمان – نر اوښځه – هروخت او په هر ځای کي فرض او د دين او د نيا تر ټولو ښه توښه ده. حضرت ابوبکر ( ص ) فرمايلي دي: «هغوی چي داخرت له پاره دنيا پرېږدي منلي نه دي، بلکي منلي خلک هغه دي چي د د نيا او اخرت د وا ړو حق پر ځای کوي.»[ پورتنی اثر]
په دې دنيا کي دعلم ارزښت په خپلو سترګو ليدلی شو. هغه هيوادونه چي ولس يي په معاصرو علومو. کسبونو او اومسلکونو سنبال دي، بسيا، سوکاله او بل ته له احتياجه ازاد هم دي او هغه هيوادونه چي ولسونه يي د دې علومو د زده کړې نه بې برخي دي، د بسيا او سوکاله ژوند نه هم محروم دي. دا دعلم د نياوي ګټې دي، خو مومين مسلمان چي تر ټو لو د مخه داخرت په فکرکي وي بايد پوه شي چي دعلم زده کړه دآخرت له پاره کومې ګټې لري. په دې برخه کي داسلام پيغمبر حضرت محمد مصطفی ( ص ) خپل امت ته دا لار ښوونه کوي چي: « چاچي دعلم لار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

خپله کړه هغه دجنت لار ونیوله» او په بل مبارک حد یث کي راغلي دي چي « چا چي دعلم دزده کړي په لار کي ژوند له لاسه ور کړ هغه شهید دي ». خوشال ځتک چي دنورو ترځنګ د د یني علم یو وتلی عالم تیرشوی دی، داسلام په مبین دین کي د علم په ارزښت او مقام تر بل هر چا ښه پوه شوي او هغه یي داسي ستایلی دي:

**پــوهــه واړه عنــایت دی غــوره لار د عبــادت دی**
**غــوره پــوهــه ده وماته له طـاعات لــه عبـادا ته**

(د خوشال خان کلیات.۷۷۹-۷۷۶ مخونه)

اوس نو په دي یو څه پوه شوو چي دعلم زده کړه داسلا مبین دین له مخي په هر مسلمان فرض او د د ین او د نیا له پاره مطلق ضرورت دی. په دي پوهیږم چي د فرض نه انکار کفر دی اودعلم له زده کړي نه ډ د ه کول لویه ګناه ده او نن سبا خو باید تر ټولو د مخه دا په ډاګه کړو چي دزرګونو مسلمان ماشوما او ځوانانو په مخ د زده کړو یاني دعبادت کولو دروازي تړل په ډاګه داسلام د مقدس دین دبنسټیزو اصولو او دزرګونو مسلمانانو دهیلو او ارزو ګانو سره مخا مخ ټکر او له ګناهونو ډک عمل دی.
دا انسانان، چي په مخ یي اسلامي امارت د دوی د شته ښوونځیو او پوهنځیودروازي تړلي وي اوبایي تر اوسه پوري تړلي دي په ژوند کي هیلي او امیدونه لري او غواړي چي د زده کړو له لاري دی هیلو او ار مانونو ته ځان ورسوي او له دوی سره په زرګونو میندي او پلرونه ، خویندي او وروڼه په دي هیلو او ارمانونو کي شریک دي. دوی هیڅا ته زیان نه رسوي بلکي فرض ادا کوي او په د ین او د نیا کي خپل مشروع هدف ته د ځان رسولو هلي ځلي کوي.
داسلامي امارت محترم مشران تل ټینګار کوي چي موږ جونو او ښځو ته داسلام په چوکاټ کي دزده کړو او کار اجازه ور کوو، خو موږ دامارت درنو مشرانو پام دي واقعیت ته اړوو چي لوی پرورد ګار ( ج ) په مسلمانو جونو اوښځو دعلم زده کړه فرض کړي ده او پاس مو هڅه وکړه، تر څو ښکاره کړو چي، دا فرض د هر ډول قید او شرط نه ازاد دی. نو ځکه ، ای د اسلامي امارت محترمو مشرانو، جونه اوښځي داسلام مبین دین په چوکاټ د دي فرض د په ځای کولو له پاره د ستاسي او یا د بل چا اجازي ته هیڅ ضرورت نه لري. په همدي توګه هیڅ مسلمان ته نه ښایي چي دعلم دزده کړي بهیر دخپلو غوښتنو تابع کړي. دعلم زده کړه په په ښځه او نارینه فرض ده او دمسلمان آمر دیني او د نیا وي وجیبه داده چي د زده کړو امکانات پراخ کړي او دهیوا د په کوټ کوټ کي ځوان نسل زده کړوته وهڅوي، ځکه چي علم هم دین دی او هم دنیا ده، په دین کي سرلوړي دی او په دنیا کي ابا دي او سو کالي دي. لهدې امله دا لیکنه د خوشال ختک په لاندني شعر پای ته رسوم:

**کــه د نفــس په نغوته د رومي تابه زر کاندي رســوا**
**چه ارواح پرې خوښي مومي هغه چار کــنه اعـلا**

**مــټ په علــم کــړه چي علــم هم اژدا د ه هم عصا**
**یــا پــه علم کي لــذ ت د ی یا په عشق کي دمولا**

(انتخابات خوشال. ۱۰ مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ